## الحاج الهام الدين قيام



# د ملتونو غله

داسی غله شته چی ملکونه غلاکوي
پکی ځګ ځګ پراته غرونه غلاکوي

ټول ثُروت او ځایدادونه خو د ځان کړي
پکی میشت ټول ولسونه غلاکوي

د عزت اود حُرمت پروایی نکړي
دوی ولس لکه پسونه غلاکوي

د فرهنګ او ثقافت چورته یی ناست دي
دوی د خلکو فرهنګونه غلاکوي

په وطن د مینتوب روحیه یی وژني
دوی یی ورو ورو غیرتونه غلاکوي

خپل افکار په بل ملت ورتپل غواړی
دوی د ټول ملت فکرونه غلاکوي

دوی د نورو ژبی وژني ، خپله پالي
دوی لدی لاری قومونه غلاکوي

دوی د خلکو د تاریخ بدلول غواړي

**د ویاړ ډک ټول تاریخونه غلاکوي**

**د دی غلو په ضد قیام په کاردی خلکو**
**که نه ، دا غله ملتونه غلاکوي**

**والدورف/جرمنی**
**۲۰۱۴/۰۶/۰۶**